# New literary trends in 21st century's Pashto novels

د.یوپشتمي پېړی پښتو ناولونو نوي ادبي رجحانات

Shagufta Begum*

[1]PhD, scholar. Pashto Academy University of Peshawar, Khyber Pakhtunkhwa, Pakistan.

**Email.**shaguftazafar84@gmail.com

## Abstract:

Literature is the depiction of social, economical, cultural, religious, and mythological aspects of life structured in the form of a specific language of particular folks of specified geography along with Diaspora that reflects the same norms and values of similitude. New trends are evolved in specific literature amid global views with the multiplicity usage of traditional terms not seeming relevant to be propagated at the same pace in the 21st century. The 21st century is likely to bring science and arts more closely to experimentalize both rivals or to incline seizure between them. Empiricism is a new trend focusing on variation from definite meanings for definite objects. Like relativism of love, cultural liquidity, pluralism, diversification, adaptability, global challenges, the universality of literature, and limitations of boundaries between arts and science.

Pashto novels, no doubt, are now evolving at a slow pace but targeting the global challenges that literature needs to cope with the Universality of common challenges to be discussed in specific literature. Issues are taking universal shapes from food to clothes and from religious harmony to interfaith Patience. Pashto novels in new trends depict all these titles for the unanimity of a peaceful world.

This research paper tends to show the trends of adaptability of Pashto novels in the vast global scenario of multiple pieces of literature on the basis of uniformity in life structure and to enshrine the norms and values of new trends that prevailed in the 21st century's Pashto novels.

**Keywords:** Cultural Liquidity, Reality, Pluralism, Diversification, Global challenges, global literature, adoptability

پښتوناول په بنيادي توګه د غريبې طبقې د شخړو او مشکلاتو عکاسي کوي. د پريوتو طبقو شخړې ښکاره کول د پښتو ناول ړومبے پړاؤ ګڼلے شي. کله چې شخړې او مشکلات ښکاره شي بيا د دې د حل لارې په نظر کښې اوساتلے شي. د نورمحمد ترکئ ناولونه د داسې هڅو څرګندې نمونې دي. د نورمحمد ترکئ په تقليد کښې سيد رسول رسا ناولونه هم د پښتنو ژوند ژواک او د اولس کلتوري او ټولنيز ژوند ښکاره کوي. ناول د ژوند هغه اړخونه څرګندوي کوم چې په افسانه کښې امکان نه لري. ناول کثير اړخيز هنري فن دے او د دې ماهر ناول نګاران د متعلقه ټولنې هر اړخ څيړي. اګرچې د دې ټول لوازماتو په حقله اوس هم نقادان تنقيدي نظرونه لري چې پښتو ناول کښې اوس هم ځينې خاميانې په نظر راځي او د ناول پوره لوازمات نه پوره کوي. د دې باوجود د پښتو ناول مختلف پړاونه د پريوتي طبقې نمائندګی نه واخله تر د يويشتمې پيړۍ د نړيوالو ناولونو په صف کښې اودرولو دپاره ناول نګاران خپلې هڅې تاندې ساتي.

د پښتو ناول يو بل پړاو کښې د مينې او محبت اظهار کول شروع شو او داسې اظهار کول د جذباتو ژور احساس دے. په جذباتو کښې مينه د عادي ژوند نه تجاوز شي ځکه چې جذبه د عقل سره تضاد لري او د جذباتو په بنياد هر عمل وقتي کيدے شي مګرکل وقتي نه شي کيدے البته سائنسي تجرباتي عوامل کل وقتي وي مګر ارټس او سائنس تر مينځ تر اوسه هغه سرحدونه لا عبور شوي نه دي کوم چې به په راتلونکي وخت کښې ختم شي. د محمد حسن خليل په ناولونو کښې داسې څرکونه په نظر راځي.

د پښتو ناول په يو بل پړاو کښې د جنسياتو په حقله مباحث راوړلي شوي دي چې زمونږ د چاپيرېال عکاسي کوي. د مټو خان په ناولونو کښې د داسې ټولنيزو پېښو عکاسي په نظر راځي. ځينې ناولونه بيخي د پښتو ژوند داسې عکاسي کوي چې هر څه د پښتوژوند اصل او رښتيا ښکاري، دراصل د ژوند داسې ترجماني د حقيقت نګارۍ په زمره کښې راځي چې د امير حمزه خان شنواري ناول د دې ښکاره نمونه ده.

په یویشتمه پېړۍ کښې د پښتو ناول نوي رجحاناتو سره اشنا شو۔ د دې شا ته څه داسې پېښې او واقعات دي چې یوه پېښه د نائن الیون ده۔ دې پېښې د پښتنو کلتوري، مذهبي، سیاسي، اخلاقي، معاشي، اقتصادي او ټولنیز رجحات په نوي پړاو کښې داخل کړو۔ پښتنو ناول نګارانو ته په سیاسي، کلتوري او مذهبي محرکاتو کښې تضادات ښکاره شو۔ د پښتنو په ځینې کلتوري اوصافو او اقدارو تعریفونو شکونه پیدا شو۔ په سیاسي توګه د نظریو، تیوریانو، بیانیو او مباحثو سره اشنا شو۔ ناول نګارانو ته دا ادراک اوشو چې د تېرو څو پېړیو د غیرت تعریف په یویشتمه پېړۍ کښې محض بنیاد پرستي او رجعت پسندي ده۔ ناول نګارانو ته دا اندازه اوشوه چې ژوند محض د رومانیت، جنسیت او خوراک پوشاک نه دے بلکښې نوي ترجیحات لري۔ د نړیوال کلتور اوازه واورېدے شوه او د نړیوال کلي انګازې پورته شوې چې په پښتون اولس ئې ژور اثرات پرېښودل۔

د کلتور په حقله بنیاد پرستو ناول نګارانو بنیادپرستانه اپروچ لرلو چې دا یوه داسې پوهه ده چې د فولک لور په بنیاد یو عمارت تشکیل شوے دے او دې ته د یو قانون حیثیت حاصل دے او دې کښې څه تغیر امکان نه لري مګر په یویشتمه پېړۍ کښې د کلتور مائعیت یا لچک دا ښکاره کړه چې یو کلتور هم خالص نه شي پاتې کېدے۔ د پښتنو په کلتور کښې بدلون د دې تجرباتي نمونې دي او ښکاري داسې چې په راتلونکي کښې به کلتور کښې اکثر اوصاف او اقدار عالمي شي او کوم ځیز چې کلتور کښې مزاحمت کولو توان لري، هغه ژبه، جامه پائزار او میلمستیا ښکاري۔ د دې نه سېوا نور غیر مادي اوصاف او اقدار بېخي د تنزل ښکار دي۔ یو ډېر توانا او رسېدلے کلتور به تر یو وخت پورې مزاحمت اوکړي او بیا به د نړۍ په کلتورونو کښې ضم شي۔ د یویشتمې پېړۍ پښتو ناولونو کښې د نصیر احمد احمدي، سعدالدین شپون، رازمحمد راز او داسې نورو ناول نګارانو د دې نمونې پېش کړې دي۔ نصیر احمد احمدي د پدرسري، میزوجیني، کلتوري مائعیت، تکثریت او عالمګیریت طرف ته د پښتو اولسونو وړل پرمختګ ښائي چې دې سره به پښتون اولس د نړېوالو ضروریاتونو سره اشنا شي۔

"پېشو ووئیل: څه ئې کوې! رحمدل ووېشته۔ زما د خبرې خوب دې رانه کړو۔ کارغه ووئیل: له پنځه زره کلن تاریخه ئې نه یم خبر، خو د رحمدل دوئي پلارونه او نیکونه رامعلوم دي۔ بس ! رحمدل دوئي ته ګوره، که په دې خلقو کښې پوهه ویني، نو پخواني ئې عالمان وو۔ که نه له رحمدل دوئي ټکے فرق نه کېده۔[1]"

تیوري د ادب دپاره د مباحثو لړۍ پیل کوي او پښتو ناول کښې د تیوریانو تحقیق لاندې مباحث راوړلي شوي دي۔ پښتو ناول کښې د غیر مادي اقدارو او اوصافو نوي تعریفونو په حقله مختلف نظرونه پېش کړي شوي دي۔ د ښځو حقونو په حقله د پتریارکي ساخت ته د شک په نظر لیدلو نه پس د دې په ښکاره توګه رد تشکیل ساختیات پېش کړي شوي دي۔ د تکثیریت په حقله د پرامن

[1] احمد، نصیر احمد، اخ وطنه (ناول)، مومند خپرندوي ټولنه جلال اباد، ۲۰۱۸، مخ ۸۴

ټولنې دپاره ليکونه شوي دي۔ د پائنده محمد ناولونو کښې په مذهبي رجعت پسندئ ليکونه شوي دي او د اسلامي شعائرو په حقله ئې په زميني حقائقو تجرباتي ليکونه کړي دي۔ د جهاد او فساد په مينځ کښې ئې افراق و تفريق د پښتنو بدحالئ او نتائجو سره تړلي دي۔ دا وينا هم بر محل ده چې ټولنه کښې بيګاړ د اوږدو جنګونو له امله پيدا کيږي او دا ليکونه د سعدالدين شپون په ناولون کښې ښکاره بيان شوي دي۔ نصيب الله سيماب په خپل ناول "طالبه خداے که به ملا شي" کښې د پښتنو بربادئ اسباب پردي جنګونه ښائي۔ څلورلسيزې وړاندې د پښتنو ټولنه کښې د رجعت پسندئ او بنياد پسندئ رجحانات ډېر وو۔ په د يويشتمې پېړۍ په ناولونو کښې د دې په کلکو ټکو کښې غندنه شوې ده چې په عالمګيري کچ يو قوم او اولس هم ځان له وخت نه شي تېرولے۔ يو قوم که په يوه جغرافيه کښې شتون لري، هغه د يو خاص وطن او سيمې باشندي وي مګر دې سره دا قوم د دې نړۍ اوسيدونکے هم وي۔ د نړۍ نه ځان ته وخت تېرول امکان نه لري۔ د پښتون اولس ډياسپورا د دې ادراک ډېر ښه کولے شي او په مختلفو ناولونو کښې د داسې پېښو بيانونه راوړلي شوي دي چې د يو قوم ټولنيز ژوند اثرات د هغه قوم په وګړو په نورو ملکونو کښې څنګه کېدے شي۔

"ستاسو د څنګ په کلي کښې يو واده وۀ، د ډوډۍ په وخت کلا ته يو زلمے راغے، ديارلس، څوارلس کاله به ئې درلودل، خپله خور ئې پسې غوښته خو د کور خاوند يوه روپۍ کړ، ويل ئې چې نامحرمه ئې، په منډه ئې له کوره وايست، خبره خلاصه نه شوه، د کور خاوند د باندې پسې ورغے، کليوالو ته ئې وويل، څو کسه پر هلک ورټول شول، دومره ئې وډباوه چې له اخه ټوخه ولويد، ويل ئې چې زموږ خويندو، ميندو ته دې کتل، خو ماسپښين په هم دې سراے کښې دوو پياوړو ځوانانو ډول واهه، پېغلې پرې راګرځېدې، نه ئې ځانونو ته پام وۀ او نه هم ټکريو ته، له څرخ سره به سپينې غاړې او خلاص ټټرونه ښکاره شول۔[2]"

د يويشتمې پېړۍ په ناولونو کښې د نورو قومونو او مذهبونو په حقله د احترام او برداشت ليکونه شوي دي۔ د مذهبي هم اهنګئ، رنګ، نسل، کلتور او شکل په نسبت پښتو ناول کښې د نورو اولسونو سره د انسانيت رشته ښکاره کړې شوې ده۔ د فوکوياما د شناخت شخړه پښتو ناولونو کښې په لاشعوري توګه بيان شوې ده چې قومونه د شناخت شخړې سره مخامخ دي او د احساس کمتر او برتر دپاره جوازونه ګوري کوم چې د هائبرماس د کراسز سره اړه لري مګر د دې دپاره د برتر احساس جواز هيڅ کله نيک شګونه نه شي کېدے۔

"په دې پوهېږم چې دوه ډلې جوړېدل د دې نړۍ طبعي حالت دے۔ هر ځاے او هر چېرته دوه ډلې او دوه فکرونه وي۔ يوه ډله او فکر په کړه او د کړي مل وي او بل په سمه او د سمې مل وي۔[3]"

---

[2] احمدي، نصير احمد، جُوجُو (ناول)، مومند خپرندويه ټولنه جلال اباد، ۱۳۹۲، مخ ۱۶

[3] بشارت، رحيم الله، ۳۸ بجې ۴۰ دقيقې (پوليسي ناول)، مومند خپرندويه ټولنه جلال اباد، ۱۳۹۰ ، مخ ۲۸

پښتو ناول کښي د حقيقت يا رښتياو په حقله مبهم سوالونه راپورته شوي دي مګر دا ښکاره ده چې پښتنو ناول نګارانو د خپل کلتور، مذهب او ټولنيز ساخت هغه اړخونه بيان کړي دي کوم چې په يويشتمه پيړۍ کښي او راتلونکي وخت کښي قائم پاتې کيدے شي او د وخت تيريدو سره د مطابقت توان لري۔ داسي اوصاف او اقدار چې د وخت تيريدو سره ناپيد کيږي، په هغو خط تنسيخ راښکل هم پښتو ناول نګارانو ښکاره کړي دي۔ په يويشتمه پيړۍ کښي سياسي، اقتصادي او د بقا شخړې په زياتيدو دي او پښتون اولس ته دا چيلنجونه راپيښ دي او د دې دپاره پښتو ناول کښي نورو ليکونو ته اړتيا ده۔ په نړيوال کچ بدلون پښتو ناول متاثر کړے دے او ښکاري داسي چې دا رجحان به لا نور زياتيږي۔ د ښځو حقونو په حقله په يو ناول کښي داسي نظر پيش کولے شي۔

"بيا بايد چې خپل ژوند ته اوږه ورکړل شي۔ ښځه او خاوند دې د موټر د څلورو پايو په شان په يو بل تکيه شي۔ ښځه دې د ميړه سره لوښي وينځي او ميړه دې د ښځې سره کور جارو کوي۔ ژوند داسې پر مخ ځي۔"[4]

د مهابيانيو رد تشکيل څيړني په يورپ کښي په تيره پيړۍ کښي د دويمي نړيوالي جګړې نه پس شروع شوي دي۔ په پښتو فکشن کښي دې طرف ته اشارې په استغارو او کنائو کښي شوي دي چې هغه لوئې بيانيې چې د اولسونو ژوند ژواک نه شي ښه کولے هغه دې رد شي او د دې په ځاے دې نورې بيانيې ترويج اومومي مګر دلته دا سوالونه پيدا کيږي چې د مهابيانيو رد تشکيل په نتيجه کښي متبادل څه کيدے شي۔ پښتو ناول کښي د دې دپاره د خپل کلتوري ژوند اصل اوصاف او اقدار ښودلي شوي دي چې په وړو بيانيو کښي پښتانه په د خپل کلتور په پائيدار اوصافو او اقدارو کښي وخت تيرولے شي۔ مګر د دې دپاره په کلتور کښي هغه څيزونه رد کول لازمي دي کوم چې په يويشتمې پيړۍ کښي غير پائيدار ښکاري۔ د دې نمونې د غيرت غير منطقي ترويج، سواره، ولور، د کم عمر وادونه، د ښځو سره بد سلوک، په ماشومانو تيرے، پيغور، غړ، تاريخي مغالطې، غرور او داسي نورو بدبختيو رد کول لازمي دي او هغه اوصاف او اقدار چې د څيړنو لاندې دي لکه جرګه او ننواتي زير بحث راوړل په کار دي۔ البته د پښتو ژبې، ميلمستيا، همدردي، نيکي، غم او ښادۍ کښي شرکت، جامه پائزار د داسي اوصافو او اقدارو ترويج او تشهير په کار دے۔ دې سره به د پښتو اصل روح ښکاره شي او د پښتون اولس يو کوټلے کلتور به پائيدار شکل اختيار کړي۔ دې سره به پښتنو اصل شناخت شخړه حل شي۔ دې سره به دا وضاحت اوشي چې پښتون د يو انسان په حيث د دې نړۍ اوسيدونکے دے او د نړۍ د نورو اولسونو په شان يو اولس دے۔ د ننګ، غيرت، تاريخ او برترۍ ساختيات په فکر کښي نيوال په کار دي چې نوي ليکونه د نړيوالو ساختياتو سره سم اوشي۔ په نورې رجحاناتو کښي په يوه کلمه يو پابند کوډ غير منطقي او غير تجرباتي ښکاري۔ د سائنس او ارټس په مينځ کښي فرق او توپير د غير مادي څيزونو شتون دے حالانکي د سائنس او ټيکنالوجۍ کوم کلتور او مذهب نه شته او دا د ټولې نړۍ د اولسونو شريک ميراث دے مګر په غير مادي څيزونو کښي

[4] شينواري، صابر، باب دې په بيان د هني مون کښې (ناول)، عامر پرنټ اينډ پبلشرز، ۳۱۰ نديم ټريډ سنټر، محله جنګي، پېښور، ستمبر ۲۰۱۵، مخ ۵۶

اختلافات دي۔ د ځیني کلمو په حقله د پښتو ناول نګارانو رجحانات بدل دي او عام اولس ته د دې پوهه ورکولو هڅې کوي چې په دې څیزوونو دې غور اوشي۔ د دې يوه بېلګه په لاندې اقتباس کښې بيان شوې ده۔

"ستار ته د نصيب کلمه دهغه ښکاري دام په شان وه چې صحرايي او بې خبره مرغان پکې نښول کېږي۔ دا کلمه (نصيب) د مذهبي کسانو او د پېسو د خاوندانو هغه جال دے چې لا شعوره کسانو باندې يې غوړه وي د هم دې کلمې (نصيب) له کبله ځانونه چاغه وي۔ او د نورو ګټې تر پښو لاندې کوي۔"[5]

په نوي رجحاناتو کښې د رد تشکيل بيانيه عميق ساختياتو رد بيانيه ده۔ رد تشکيل د هغه څه تلاش کوشش نه دے چې انسانا بائللے دے بلکښې دا هغه اميدونه دي چې ده کله هم نه دي موندلي۔ د دې مثال داسې دے لکه يو زوړ خاروے د يوې څراه ګاه په انتظار وي۔ رد تشکيل مطلب هر ګز دا نه دے چې ادب ساختي پراجيکټ خاتمه اوشي او ژوند د سر نه شروع شي بلکښې په ساختياتو کښې د ړنګولو نه پرته د متبادلاتو لټون اوشي۔ کوم کلتوري او اساطيري څيزونه چې زيربحث دي، هغه پښتو ناول کښې ښکاره کړې شوي دي او د دې يو مثال لاندې دے۔

"ږيرور له رنجو ډکې سترګې ورپولې: ډاکټر صاحب تۀ اوس پيريان نه منې۔ ډاکټرد باتور ورغوے وموښه۔ هغه رانبغ شو، پړيکړې پړيکړې ساه ئې واخيسته۔ ږيرور ځادر ټک واهه او ډاکټر د فشار اله په بکس کښې کېښوده۔"[6]

ژوند د کلتور، مذهب، اقتصاد، سائنس او ټيکنالوجۍ ګډ نوم دے۔ اقتصاد،سائنس او ټيکنالوجۍ په حقله د پښتنو فکري ترجيحات په ورو ورو د مطابقت طرف ته روان دي مګر په کلتور او مذهب کښې رجعت پسندۍ طرف ته ميلان ډېر دے۔ د نوي وخت ناول ليکوالان دا هڅې کوي چې هغه څه مخې ته راوړي کوم چې د پښتنو ټولنه کښې د قدامت پسندۍ ښکار دي۔ په نوي رجحاناتو کښې اخلاقيات د پښتو ناول موضوعاتو کښې شامل دي۔ اخلاقي پستۍ دراصل د بد امنۍ او اقتصادي ستونزو په نتيجه کښې رامنځ ته کېږي۔ خوشحاله ټولنه د اخلاقي پستۍ نه محفوظ وي۔ په اخلاقي پستۍ کښې جنسي بې راه روي ږومبے عامل نه دے بلکښې د ټولني د زوال اسبابو کښې دروغ، دهوکه، چغلي، شيطاني، غيبت، سازشونه، غلا او غير مادي مجرد څيزونو بيګاړول شامل دي۔ په رجعت پسندانه پښتو ټولنه کښې جنسيت د اخلاقياتو پستۍ واحد سبب ګڼي حالانکې دا صرف يو عامل

---

[5] موج، عبدالعزيز، ډاکټر، پوهنيار (ژباړن: پوهنيار ډاکټر عبدالعزيز موج)، يو ګام د سولې پر خوا (ناول)، مومند خپرندويه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۹۰ل، ۲۰۱۲ميلادي، مخ ۳۸

[6] پسرلے، اجمل، لپه (افسانې)، سروش پلورنځے کابل، ۲۰۱۸، مخ۱۲

دے او د دې نه زیات نور عوامل خطرناک دي۔ د دې په حقله يې یو ناول کښې لاندې بیلګه وړاندې کولے شي۔

"هر یو د خپل توان او وسه پورې غل دے۔ په ناروا او دروغو د پردو حق خوري۔ د هغوي کره د هغوي یو تن دوست چې په کیمپ کښې اوسېده او دلته ناست وه۔ ویې وئیل۔ حیران دې ته یم چې سم دم پېنځه وخته لمونځ کوي۔ ځان ته ښه مجاهد او مسلمان هم وائي۔ مګر دروغ وئیل، چل ول، ناروا، د بل مال په غبن خوړل ورته نسوار هم نه ښکاري۔ د جهاد او اسلام نوم يې بد کړو۔"[7]

د یویشتمې پېړۍ په ناولونو کښې دا هڅه شوې ده چې د مطابقت دپاره کوم رجحانات مؤثر کېدے شي۔ نوي رجحاناتو نه مطلب د ادبي صنفونو از سر نو جاج اخیستل دي چې په ساخت کښې کوم ځاے کښې خامیاني دي چې د ټولنې ژوند ښه پرمختګ اوکړي۔ د دریدا په قول یو څیز هم د ساخت نه بهر نه شته او هر څه د ساخت په تقلید کښې کېږي۔ پښتو ناول نګاران کولے شي چې د ادبي کلتوري اوصافو او اقدارو تنقیدي جاج واخلي او د غیر متعلقه څیزونو نه د پښتو ژوند پاک کړي او اولس ته یو کوټلے انساني ژوند هنر اوښائي۔ د پښتو ناول نګاران به د نړېوالو ادبیاتو مطالعې سره سم د ژوند عکاسي هڅې کوي چې د پښتنو ژوند پرمختګ اوکړي ځکه چې ادبي ساختیات د ژوند په بدلون کښې بنیادي کردار ادا کوي۔

ACKNOWLEDGEMENT

This work is a part of the PhD thesis of Ms, Shagufta Begum
PhD Scholar at Pashto Academy, University of Peshawar

.

کتابیات

- احمدي، نصیر احمد، پټان (ناول)، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد، ۲۰۱۸
- احمدي، نصیر احمد، خونکار (ناول)، مومند خپروندویه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۸۹
- احمدي، نصیر احمد، زارو (ناول)، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد، ۲۰۱۶
- بسام، عزیز، اووه انتوني برونو (ناول)، کائنات څېرنیز او د ژباړې مرکز: کابل، افغانستان، ۱۳۹۶ش، ۲۰۱۷ز
- حیات،ص،ف،شیطان د فرښتې په جامه کښې،ناول (ژباړن: نجیب الله بجیب)، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد، ۱۳۹۰

[7] یار، محمد اجان، له بنګاله تر باګرامه (ناول)، د پښتونخوا د پوهنې دېره، پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ ۵۶

- ښالیز، اسدالله، ډاکټر، تېښته (ناول)، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد، ۱۳۹۲
- سیماب، نصیب الله، ډاکټر، پروفیسر، طالبه! خداے که به ملا شې (ناول، دوهم چاپ)، پښتو نړیواله مرکه، ۲۰۱۷م
- شینواري، صابر، باب دې په بیان د هني مون کښې (ناول)، عامر پرنټ اینډ پبلشرز، ۳۱۰ ندیم ټریډ سنټر، محله جنګي، پېښور، ستمبر ۲۰۱۵
- کرګر، اکبر، واټنونه(ناول)، اسد دانس مطبعه- کابل، (۱۳۹۲ل،۲۰۱۴ز
- ممتاز، عبدالجمیل، فېسبوک (ناول)، مومند خپرندویه ټولنه جلال آباد۱۳۹۴ل، ۲۰۱۵م
- یار، محمد اجان، له بنګاله تر باګرامه (ناول)، د پښتونخوا د پوهنې دېره، پېښور، ۲۰۱۲ء

## English Bibliography


- Baudrillard, Jean, Baudrillard's Bestiary, Routledge11 New Fetter Lane, London EC4P 4EE, 1991
- Critchley, Simon, Derrida, Jacques, Laclau, Ernesto, Rorty, Richard, Deconstruction and Pragmatism, Rutledge London and New York, 1996
- Derrida, Jacques, Edmund Husserl's Origin of Geometry: An Introduction, University of Nebraska Press Lincoln and London, 1989
- Derrida, Jacques, Of Grammatology, The Johns Hopkins University Press 2715 North Charles Street Baltimore, Maryland, 1998
- Derrida, Jacques, The Ear Of The Other, Schocken Books New York,1985
- Francois Lyotard, Jean, Postmodern conditions ( A Report On Knowledge), Manchester University Press, 1984
- Gilles, Deleuze, Bergsonism, Zone Books New York, 1991
- Gilles, Deleuze, Kant's Critical Philosophy, The Athlone Press London, 1984
- Harari, Yuval Noah, 21 Lessons for the 21st century, Jonathan Cafe, an imprint of vintage, 20 Vauxhall Bridge Road, London SW 2SA, 2018
- Kristeva, Julia, POWERS OF HORROR An Essay on Abjection, COLUMBIA UNIVERSITY PRESS New York 1982
- Nayar, Pramod K., Postcolonial Literature(An Introduction), Dorling Kindersley(India)Pvt. Ltd, 2011
- Nietzche, Fredrich, The Birth Of Tragedy, Vancouver Island University Nanaimo, British Columbia Canada, 2008
- Oliver, Kelly and Keltner, S. K., Psychoanalysis, Aesthetics, and Politics in the Work of Kristeva Published by State University of New York Press, Albany State University of New York, 2009


Pukhtunkhwa Journal